**د پوښتنو شمیر :        ( ۱۰۱ )**

**تشریحی، لنډځوابه ، خانه خالی، څلورځوابه، سمی او ناسمی پوښتنې**

**مضمون :       کمپیوټر**

**ټولګی :       لسم (۱۰)**

**ژبه :        پښتو**

## تشریحی پوښتنې

1. د سوداګرۍ په ډګر کې له کمپیوټر څخه د کومو موخو لپاره ګټه اخیستل کیږی تشریح یی کړئ؟
2. په Start مینو کی د All programs دنده څه شی دی تشریح یی کړی ؟
3. په پوهنیز ډګر کې زده کوونکی د کومو موخو لپاره له کمپیوټر څخه ګټه اخلې واضح یی کړئ؟
4. Hacker چا ته ویل کیږی توضیح یې کړئ؟
5. د روغتیا په برخه کې د کمپیوټر څخه د کومو موخو لپاره ګټه اخیستل کیږی واضح یی کړئ؟
6. دکمپیوټرونو دخوندیتوب لپاره په معمولی توګه باید کوم ټکی په نظر کی ونیول شی ویې لیکئ ؟
7. د Copy او Cut تر منځ توپیر څه شی ده واضح یی کړئ؟
8. کمپیوټری ګواښونه دکومو ګواښونو څخه عبارت دی په لنډ ډول سره یی شرحه کړئ؟
9. د Administrator او محدود( Limited) ترمنځ فرق څه شی دی واضح یی کړئ ؟
10. کمپیوټری ویروسونه کومو پروګرامونو ته ویل کیږی شرحه یې کړی ؟
11. په ورډ پروګرام کاری ساحه یا Working Area څه دنده لرې تشریح یی کړئ؟

## لنډ ځوابه پوښتنې

12. دکمپیوټر لومړی اختراع په کوم کال کی شوی ده ؟
13. ۱ میګا بایټ (MB)مساوی دڅو کیلو بایټ (KB)سره دی؟
14. دکمپیوټر دحافظی داندازه کولو واحد څه شی دی ؟
15. په ورډ پروګرام کې د کوم کمانډ له لاری خپل اجرا شوی عمل بیرته راګرځولی شو؟
16. کمپیوټر تعریف کړئ ؟
17. سوپر کمپیوټر په کوم کال اختراع شو؟
18. د میلمه یا Guest اکونټ څه ډول یو اکونټ دی؟
19. سیمه ایزه شبکه یا LAN تعریف کړئ؟
20. MS word program څه شی دی تعریف یی کړی ؟
21. دکمپیوټر حافظه یا زیرمه په تولیزه توګه په څوبرخو باندی ویشل شوی نومونه یی ولیکئ؟
22. په Word پروګرام کې تر متن لاندی د کرښې کښلو لپاره له کوم کمانډ څخه ګټه اخلو؟
23. Hardware تعریف یی کړئ؟ (
24. شبکې د جغرافیایی پوښښ له پلوه په څو ډولونو ویشل شوی دی نومونه یی واخلئ؟
25. نړیوال ویب یا WWW څه شی ده تعریف یې کړئ؟
26. د کوم پوستغالی په ذریعه سره کولای شو چی ویب یا WWW ته لاسرسی پیداکړو؟
27. کله چی په ورډ پروګرام کې وغواړو یوه نوی صفحه پرانیزو له کوم کمانډ څخه کار اخلو؟
28. عامل سیستم(Operating System) تعریف کړئ؟
29. د ویروسونو دمخنیوی لپاره باید له کوم ډول سافټ ویر څخه استفاده وشی تنها نوم یی ولیکئ ؟
30. د پروسس کوونکی د چټکتیا د اندازه کولو واحد څه شی ده؟
31. په یوه اکونټ کې د Change my picture آفشن دنده څه ده؟

## خانه خالي پوښتني

32. لینکس یو (                ) عامل سیستم ده چې د کوډ سرچینه (Source Code) یې په وړیا توگه د ګټې اخیستونکو په واک کې ورکول کیږي.
33. باینری اعداد یا (Binary Digits) له دوو شمیرو چې عبارت له (                ) څخه دي جوړ شوی دي.
34. د کمپیوټر اصلی زیرمه د معلوماتو د ثبت او ساتنی له اړخه په ټولیزه توګه په (    ) برخو ویشل شوی ده چې عبارت ده له (                ) او (                ) څخه.
35. مرکزي پروسس کوونکي واحد د معلوماتو د پروسس اصلی چاره پر غاړه لري، نو پر دې بنسټ کولای شو هغه ته د کمپیوټر (            ) ووایو.
36. د عامل سیستم اصلی او بنسټیزې دندی عبارت دی له (                )، (                )، (                ) او (            ).
37. په کمپیوټر کې د ټولو موجودو هارډویرونو کنټرول او اداره د (                ) په غاړه ده.
38. کله چې کمپیوټر یو اکونټ ولری او وغواړو هغه بدل کړو نو له (                ) څخه ګټه اخلو.
39. کله چې وغواړو د یوه اکونټ انځور بدل کړو له (                ) څخه ګټه اخلو.
40. د Search له بټني څخه د فایلونو او فولډرونو په (            ) کې ګټه اخیستل کیږي.
41. د Word پروګرام د (                ) د پروګرامونو یوه برخه ده.
42. دعملیی داجراء او پروسس دځواک او وړتیا له پلوه کمپیوټرونه په (          ) ډلو ویشل شوی دي .
43. کله چې وغواړو په ورډ پروګرام کې یوه نوی صفحه پرانیزو له (            ) کمنډ څخه کار اخلو.
44. د (            ) کمانډ په واسطه هغه سند یا فایل چې په کمپیوټر کې مو زیرمه کړی دی بیا پرانیزو.
45. که چیرته غواړو ورکړیز یا پر کاری پاڼې موجود معلومات زیرمه کړو له (          ) کمانډ څخه کار اخلو.
46. په ورډ پروګرام کې د (          ) کمانډ له لاری کولای شو پاڼه له چاپ څخه د مخه په چاپی بڼه وګورو.
47. (            ) کمانډ د Undo په عکس عمل کوی.
48. شبکې د جغرافیایي پوښښ له مخی په (      ) برخو ویشل شوی دي.
49. په هغه شبکه کې چې کمپیوټرونه هم د اخیستونکی او هم د ورکوونکی سرور په توګه کارکوی د (            ) شبکې په نوم سره یادیږي.
50. ۱ میګابایټ د (      ) کیلوبایټ سره مساوی ده.
51. د (            ) انتخاب په کیکاږلو سره کولای شئ په کمپیوټر کې ټول موجود ډرایونه (Drivers) وګورئ.

## څلورځوابه پوښتنې

52. د View Ruler دنده عبارت دی له:

a) د متن ښودل
b) د خط کش ښودل
c) دواړه سم دی
d) دواړه ناسم دې

53. کمپیوټر له لاندی ویوکی (کلیمی) څخه اخیستل شویدی چی معنی یی ګڼل (شمیرنه) یا محاسبه ده :

a) comp
b) compute
c) دواړه سم دی
d) دواړه ناسم دی

54. په ورډ پروګرام کې د Ctrl+N تڼی په کیکاږلو سره:

a) نوی صفحه پرانیستل کیږی
b) صفحه بسته کیږی
c) متن کاپی کیږی
d) متن انتخابیږی

55. کوچنی کمپیوټرونه (مایکروکمپیوټر) معمولاپه څوډوله وړاندی کیږی:

a) په څلورو
b) په دریو
c) په دوو
d) په پنځو

56. میزی کمپیوټرونه (Desktop computer) دلاندی کوم یوه کمپیوټر له جملی څخه دی:

a) سوپرکمپیوټرونه
b) لوی کمپیوټرونه
c) کوچنی کمپیوټرونه
d) ټول ناسم دی

57. ټول هغه وسایل د کمپیوټر چې هم په لاس لمس کیږی او هم دلیدلو وړ وی عبارت دی له:

a) Hardware
b) Software
c) دواړه سم دی
d) دواړه ناسم دی

58. ټول هغه پروګرامونه د کمپیوټر چې په سترګولیدل کیږ ی او په لاس نه لمس کیږی عبارت دی له:

a. Hardware
b. Software
c. دواړه سم دي
d. دواړه ناسم دی

59. هغه وسایل چې دهغو پواسطه سره کولای شو کمپیوټر ته ډیټا یا معلومات دننه کړو عبارت دی له:

a. input device
b. output device
c. دواړه سم دی
d. دواړه ناسم دی

60. د کمپیوټر د هارډویر هغه برخه چې له موږ سره مرسته کوی ترڅو پروسس شوی معلومات د کمپیوټرڅخه بیرته ترلاسه کړو عبارت دی له:

a. input device
b. output device
c. دواړه سم دی
d. دواړه ناسم دی

61. بریښنایز قلم د کوم لاندی device له جملې څخه ګڼل کیږی:

a) Input device
b) Output device
c) Storage device
d) ټول ناسم دي

62. دprinter وسیله دکوم لاندې device له جملی څخه دی:

a. Input device

b. output device

c. Storage device

d. ټول سم دي

63. Mouseدکوم لاندی device له جملی څخه شمیرل کیږی:

a. Input device

b. output device

c. دواړه سم دي

d. دواړه ناسم دی

64. Keyboard دکوم لاندې device له جملی څخه شمیرل کیږی:

a. Input device

b. output device

c. Storage device

d. ټول سم دي

65. Speakers دکوم لاندې device له جملی څخه شمیرل کیږی:

a. Input device

b. output device

c. Storage device

d. System Unit

66. دکمپیوټر د حافظی اوزیرمی داندازه کولو واحد عبارت دی له:

a) Bits

b) MIPS

c) دواړه سم دي

d) دواړه ناسم دي

67. ۱میګابایټ مساوی دی له :

a) 1012 کیلوبایټ

b) 1000 کیلوبایټ

c) 1024 کیلوبایټ

d) ټول ناسم دی

68. ۱ بایټ مساوی دی له :

a. ۸ میګا بایټ
b. 1000کیلوبایټ
c. ۸ بیټ
d. هیڅ یو

69. دکمپیوټر زیرمه یا حافظه په ټولیزه توګه په لاندی څوبرخو ویشل شوی :

a. 2 برخو
b. 3 برخو
c. 4 برخو
d. 5 برخو

70. اصلی زیرمه (Main Memory) په ټولیزه توګه په څوبرخو ویشل شوی :

a. 3 برخو
b. 2 برخو
c. 4 برخو
d. 5 برخو

71. هغه حافظه چی په لنډمهاله توګه معلومات ساتی عبارت دی له:

a. RAM
b. ROM
c. Hard Disk
d. ټول سم دي

72. هغه حافظه چی په هغه کی موجودمعلومات دتغیر وړنه وی اونوموړی معلومات دکمپیوټرجوړوونکی کمپنې له خوا ځای په ځای شوی دی عبارت دی له :

a. RAM
b. ROM
c. Hard Disk
d. ټول سم دي

73. هارډ ډیسک د لاندی حافظی یا زیرمي له جملی څخه دی:

a. اصلی زیرمه
b. مرستندویه زیرمه
c. دواړه ناسم دې
d. دواړه سم دی

74. دCPU یا دپروسس کوونکی دچټکتیا داندازه کولو واحد عبارت دی له:

a) Bits
b) MIPS
c) دواړه سم دې
d) دواړه ناسم دی

75. دکمپیوټر پوستغالی (computer software) په عمومی صورت سره په څوبرخو باندی ویشل شویدی:

a. 2 برخو
b. 3 برخو
c. 4 برخو
d. 5 برخو

76. دلینکس سیستم یو له ګټورتیاوو څخه عبارت دی له:

a. ټیټ لګښت
b. کم حجم
c. اصلی کوډ ته لاسرسی
d. ټول سم دې

77. د لاندی کوم بټن څخه دفایلونو اوفولډرونو په لټون کی ورڅخه ګټه اخیستل کیږی:

a. Search
b. Help and support
c. My document
d. دری واړه ناسم دی

78. له لاندی کوم بټن څخه دکمپیوټر په سم خاموش کولو کی ورڅخه استفاده کیږی:

a. Stand by
b) Sleep
c) Turn off computer
d) دری واړه ناسم دی

79. د لاندی کوم بټن پواسطه سره کولی شوچی په کمپیوټر پوری اړوندی ټولی لاربنوونی په لاس راوړو اوله هغوڅخه کارواخلو:

a. Search

b) Help and support

c) My document

d) دری واړه ناسم دی

80. دلاندی کوم option په کیکاړلو سره په کمپیوټر کی ټول ثبت شوی پروګرامونه کتلای شئ:

a) All programs

b) Help and support

c) My document

d) دری واړه ناسم دی

81. اکونټ (Account) په څولاندی ډولونو ویشل شوی دی:

a. 2 ډولونو

b. 3 ډولونو

c. 4 ډولونو

b) 5 ډولونو

## سمی او ناسمی پوښتنې

82. دمیلمه (Guest) اکونټ خاوند کولی شی یوازی له کمپیوټر څخه په عادی ډول کارواخلی داډول اکونټونه نشی کولی په کمپیوټرکی آن ډیر کوچنی بدلونونه رامنځ ته کړی. (           )
83. د change an account په وسیله سره کولی شو چی دخپل اکونټ تصویر بدل کړو . (           )
84. Microsoft paint یوداسی پروګرام دی چی دتصویری فایلونو دتصحیح او رامنځته کولو لپاره کارول کیږی. (      )
85. WordPad پروګرام یو داسی پروګرام دی چی دمتنی فایلونو د رامنځ ته کولو او سمون لپاره کارول کیږی. (           )
86. کمپیوټر په اصل کی د Computer له ویوکی کلیمی څخه اخیستل شوی چی معنی یی لوستل دی . (           )
87. Laptop کمپیوټرونه دسوپرکمپیوټرله جملی څخه دی. (           )
88. په ورډ پروګرام کې د Ctrl+O تنی په کیکاږلو سره د یاد پروګرام صفحه بسته کیږي. (    )
89. د My Network place په کلیک کولو سره کولای شو هغه شبکه چی همدا اوس ورپوری نښتي یو، وګورو. ( )
90. عامل سیستم د کمپیوټر د سافټ ویر او هارډویر ټولی کړنې کنټرول او رهبری کوي (           )
91. د My computer په کلیک کولو سره کولی شوپه کمپیوټرکی ټول موجودډرایونه(Driver) وګورو. (           )
92. د Log off بټن پواسطه سره کولی شو چی کمپیوټر په دایمی صورت سره خاموش کړو . (           )
93. د paint پروګرام دپرانیستلولپاره په  Run کی pbrush لیکو. (           )
94. دWordPad پروګرام دپرانیستلولپاره په Run کی msword  لیکو. (           )
95. د My Recent Documents په کلیک کولو سره د هغو سندونو، فایلونو او نورو څیزونو نوملړ بیا کتلای شئ چی په دی وروستیو کې مو پرانیستی وي. (    )
96. د لینکس سیستم د ګټورتیاوو څخه یو یې اصلی کوډ ته لاسرسی ده. (   )
97. په ورډ پروګرام کې د Exit کمانډ په کلیک کولو سره نوموړی پروګرام بسته کیږی. (    )
98. د Past Special کمانډ موږ ته د اصلی او کاپی معلوماتو یا متن تر منځ د تړاو یا Link شونتیاوی راکوی. (    )
99. په یوه وخت کې د Alt+Shift تنی په کیکاږلوسره د کیبورډ ژبې ته کولای شوتغیر کړو. (      )
100. د Save As کمانډ په ذریعه سره کولای شو په کاری پاڼه کې موجود معلومات په یوه ټاکلی فولډر او یا هم په بل نوی نوم زیرمه کړو. (   )
101. د Print Preview کمانډ له لاری کولای شو پاڼه له چاپ څخه د مخه په چاپی بڼه وګورو. (  )